# په هرات کې دوه ملایان خپل مابین وژلي

د هرات ولایت په اوبې ولسوالۍ کې دوه طالب ځایي سرګروپان او ملایان د خپل مابین په چاودنه کې وژل شوي دي د هرات د والي وياند جیلاني فرهاد دغه پېښه تایید کړه او زیاته یې کړه ملا کامران او ملا منیر غوښتل چې امنیتي ځواکونو په لاره کې ماین کېږدي چې په همدې وخت کې یې پرې چاودنه کړې او دواړه ځای پر ځای وژل شوي دي هغه وایي، دغه طالبان د ملا نسیم مبارز د ډلې غړي وو او د اوبې ولسوالۍ په شاینان کلي کې یې افغان ځواکونو ته ماینونه ځای پر ځای کول

طالبانو په دې اړه لا څه نه دي ویلي، خو په هرات ولایت کې له څو ورځو راهیسې پراخ پوځي عملیات پیل شوي چې افغان حکومت په کې د ګڼو طالبانو د تسلیمېدو خبر هم ورکړی دی

Ketabton.com

# ...غړي هېوادونه د افغانستان جګړې ته اندېښمن دي

ي د دغه
او عراق
له خورا
و د ملګرو
ي وېلي
افغانستان

کې د ترورېزم قربانیان د ډېری د بل هر هېواد په پرتله زیات دي. راپور زیاتوي چې القاعده او له دې ښکې سره تړلې نورې جنګیالي چې طالبان یې ملاتړ کوي، د افغانستان لپاره اوږدمهالې ګواښ دی. داعش بله ترورېستې ډله ده چې په راپور کې د افغانستان لپاره لوی خطر بلل شوی دی. دې ډلې که څه هم په ننګرهار ولایت کې چې اصلي مرکز یې بلل کېدا، لویه ضربه ولیده، خو د ملګرو ملتونو د کارپوهانو راپور وایي، داعش ډلې ښخوا ثابته کړې چې ارتجاعي خاصیت لري، نو ځکه لا هم جدي ګواښ دی



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**